مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لَوَنگی جبارخیل

۲۰۲۳/۰۱/۲۶

# غم څه دی او بم څه دی

زه پوهېږم ټپ څه دی، دردونه څه او غم څه دی
ما ته رامالومه چې مرمۍ څه دی او بم څه دی

نورو که دي لوستي او په فلم کې لیدلي دي
ما سره چم شوی او پوهېږمه چې چم څه دی

خلک وو نالوستي د رمو په څېر روان به وو
اوس خو ښه پوه شوي دي چې زیات څه دی او کم څه دی

ډېر نسلونه پاتې شول تیارو او ناپوهۍ کې ډېر
اوس په دې پوه شوي چې رڼا څه او تورتم څه دی

ګرځنده به ګرځي پرمختګ او سوکالي مومي
اوس هم ځینې ناست دي، په دې پوه نه دي چې تم څه دی





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ